دکندهار ولایت ددامان ولسوالی د تور کوتل دساحی د تعمیراتی ډبرو پروتوکول د جامدو کانو ریاست او( عبدالسمیع فیروز مایکرو میشن شرکت) تر منځ

په صفت د خرڅونکی په ریاست کانونو جامدو د کی پروتوکول دغه په

د( عبدالسمیع فیروز مایکرو میشن شرکت )شرکت د مشتری په صفت.

په دغه پروتوکول کی د جامدو کانونو ریاست د خرڅونکی په صفت د( عبدالسمیع فیروز مایکرو میشن شرکت )شرکت د مشتری په صفت. د تعمیراتی ډبری قیمت دفی متر مکعب مبلغ (۲۷)افغانی له قراره چه جمله

۱ ـقراردادی مکلف دی چه د( ۱۰۸۰ )متر مکعبه تعمیراتی ډبری قیمت دفی متر مکعب مبلغ (۲۷)افغانی له قراره چه جمله مبلغ( ۲۹۱۶۰ )افغانی کیږی د معدن د ساحی په شمول پیشکی د کانو ریاست په حساب افغانستان بانک ته تحویل کړی.

۲ ـ قراردادی مکلف دی چه په حجم د( ۱۰۸۰ )متر مکعبه تعمیراتی ډبری د(۶۰)ورځو په موده کی استخراج او انتقال کړی.

۳ ـ د لوڅونی ،استخراج او انتقال مصارفات په قراردادی پوری اړه لری.

۴ ـدډبرو د استخراج او انتقال په جریان کی که کوم د معدنکاری داصولو او مقرراتو خلاف عمل تر سره شی مسولیت ئی عام و تام د قراردادی پرغاړه دی.

۵ ـ قراردادی نشی کولای چه خپل تسلیم شوی بلاک جمعا یا جزا کوم بل شرکت یا شخص ته حواله کړی.

۶ ـ که چیری د پروتوکول په جریان کی غیر مترقبه حوادث چه دهغی پیشبینی دانسان د ذهن څخه خارج وی لکه(جنګ ـحریق ـ سیلاب ـ زلزله)او داسی نور پیښیږی قراردادی مکلف دی جه په (۴۸) ساعتو کی دکانو ریاست ته رسما اطلاع ورکړی.

۷ ـمالیه ـصکوک او نور تادیاتی تکسونه د قراردادی پرغاړه دی.

۸ ـد کانو ریاست مکلفیت لری چه وخت پروخت د قرارداد د استخراجی فعالیت څخه څارنه وکړی او کوم نواقص چه پیداکیږی رهنمایی ورته وکړی.

۹ ـقراردادی مکلف دی چه د خپلو کارګرانو لپاره صحی او ایمنی شرایط برابر کړی.

۱۰ ـقراردادی مکلف دی چه د چاپیریال ساتنی شرایط مراعات کړی.

۱۱ ـ قراردادی نشی کولای چه بیله معقول عذره چه په قانون کی ذکر شوی وی د پروتوکول د معین معیادتر پوره کیدو م‍ځ مخه پروتوکول یو جانبه بسخ کړی.

۱۲ ـ که چیری د پرو توکول په جریان کی د مشتری د طرفه کوم ضرر امیز اعمال او فاحش غبن صورت ونیسی چه ددولت منافع ته ضرر ورسوی پدی صورت کی ددولت طرف کولای شی چه پروتوکول یو جانبه فسخ کړی او مشتری د خساری په جبران مکلف دی.

۱۳ ـ پروتوکول په (۱۳) مادو کی ترتیب او د ولایت دمحترم مقام تر منظوری وروسته داعتبار وړ دی.

دغه پروتوکول د ۱۳۹۳/۸/۳۰ څخه تر ۱۳۹۳/۱۰/۱۹ داعتبار وړ دی.

په درنښت

دکانونو د ریاست امضا

دقراردادی امضا

دولایت دمحترم مقام ملاحظه شد

۱۳۹۳/۱۲/۱۲

D-04-442

کندهار